

Dr. M. Said Said Afghani

**د سعيد افغاني : آزاده ، ټولنيزه ،علمي ، فرهنګي او نشراتي ارګان ته ښه راغلاست!**

ننګرهار رسنيز کور
د نشر نېټه : ۱۱سپتمبر ۲۰۱۲ ميلادی

# ۱۱ تنو ځوانانو انټرنيټ کارونه زده کړه





ننګرهار رسنيز کور(media house) د روان زيږديز ۲۰۱۲ کال د سپتمبر په ۱۰مه نيته ۱۱ تنو ځوانو ژورنالستانو ته د انټرنيټ کورس تر زده کړې وروسته بري ليکونه ورکړل.
د غونډې په پيل کې له تلاوت وروسته صيام الدين پسرلی د ننګرهار ميدويوتيک رسنيز کور په نمايندګي خبرې وکړې.
هغه وويل: ( ننګرهار ټولنيز مرکز ميديوتيک شاوخوا لس کال کيږي چې په ختيځ زون کې فعاليت کوي. د غه مرکز ددې ترڅنګ چې ټولنيز چارې پر مخ وړي د ژورناليزم روزنيزي ناستي هم لرلې، کله چې په ۲۰۰۸ کال د اکتوبر په مياشت کې ننګرهار رسنيز کور پراستل شو، نو د ژورناليزم دغه ناستې د رسنيز کور د فعاليتونو تر چتر لاندې راغی.
د ژورناليزم دغه روزنيزي ناستې د شپږو مياشتو لپاره په اوونۍ کې دوه ورځې د دوشنبې او پنجشنبې په ورځو کې ترسره کيږي.
په دغه شپږو مياشتو کې يادو ځوانو ژورنالستانو د ژورناليزم نظري زده کړې تر څنګ عملي زده کړه هم ورکول کيږي. دوی ته وخت ورکول کيږي، چې په ورکشاپونو، کنفرانسونو، ګردي ميزونو همدارنګه په ځينو راډيويی او تلويزيونی پروګرامونو کې ګډون وکړي.
دا چې انټرنيټ د نوي عصر ضرورت دی او د ژورنالستانو ډېر کار په انټرنيټ ولاړ دی، نو ننګرهار رسنيز کور د ژورناليزم د زده کړي تر څنګه دوی ته د انټرنيټ او کمپيوټر د زده کړې زمينه هم برابره کړې، چې دادی يو ځل بيا يې ددغې روزنيزي ناستې له زده کوونکو څخه ۱۱ تنه ځوانان فارغ شول، له دې وروسته به ددغه روزنيزي ناستې پاتې کسانو ته هم د انټرنيټ، کمپيوټر زده کړې او لنډ مهاله کوروسونه جوړ کړي. تر هغه وخته پورې چې دغه ځوانان د ژورناليزم له شپږ مياشتي کورس څخه فارغيږي د ژورناليزم د زده کړي تر څنګ به دوی به په انټرنيټ او کمپيوټر هم پوهيږي. په کنفراسونو، ورکشاپونو، ګردي ميزونو او ځينو نورو غونډو کې د برخه اخيستني او وينا کولو جرئت به هم پيدا کړی وي.)
تر صيام الدين پسرلي وروسته د مشال راډيو خبريال باز محمد عابد فارغو زده کوونکو ته د مبارکۍ ورکولو سربيره د

انټرنیټ په اهمیت هم خبرې وکړې. نوموړي وویل: ( یو وخت کې به موږ د خلکو اوریدل چې د انټرنیټ له لارې ډېر کسان خپلې دندې ترسره کوي خو خپل مرکزي دفترونه یې نه دي لیدلي چې دا کار عملاً اوس په موږ تیریږي، موږ له افغانستان څخه مشال راډیو ته رپورټنګ کوو خو لا تر اوسه پورې موږ خپل دفتر نه دی لیدلی.)
وروسی محب الله یار پخپلو خبرو کې د انټرنیټ له کورسه فارغ شویو ځوانانو ته له دغې اسانتیا د سمې ګټې اخیستنې وړاندیز وکړ.
د فارغو ژورنالستانو له ډلې څخه هارون رشید د ټولو زده کوونکو په نمایندګي د ننګرهار میدیوتیک له ادارې او په خاصه توګه د انټرنیټ او کمپیوټر ټرینر ضیاالدین زملي څخه مننه وکړه چې په ورین تندي دوی ته زده کړه ورکړې.
په پای کې غونډه د اسنادونو په ویش شاوخوا ۴ بجې پای ته ورسید.

درنښت

ننګرهار رسنیز کور










هره لیکنه د لیکوال خپل نظر دی او خپله دلیکوال اند څرګندوی
استفاده از مطالب سایت « ارگان نشراتی صلح و تفاهم سعید افغانی » با ذکر مأخذ آن آزاد است